







الحاج عبدالمجيد « نقيبي »



د نشر نيته : 05 جنوری 2015 م


# غوړه مالان

ټيټيد ل له خپله حده خو ډېر ګران دي
مګر بعضې بعضې خلکو ته اسان دي

سپين به توراو تور به سپين درته ښکاره کړي
ورته ګوره عجيبه لوی مداريان دي

سترګو رپ کې رنګ بدل کاندي يو وارې
بس په چل دوکه فريب کې ماهران دي

چې له حق نه سترګې پټې باطل ستاي
راته وايه چې دا څه رنګ مسلمان دي؟
ای نقيبه پام دې ښه ورباندې نيسه
داسې خلک بس د نيمې لار ياران دي

***

عبدالمجيد « نقيبي »
برول – کلن – جرمني
04 / 01 /2015


بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org